# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل


www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۸ د وږي پنځمه | د ۲۰۱۹ د اګسټ ۲۷مه | ۴۲۱مه ګڼه


## ځېره

۴ مخ

## محمد آصف محسني



محسني د هېواد وتلی دیني عالم، لیکوال، څېړونکی او غوره ویناوال و. هغه د ٦٥ په شاوخوا کې چاپ او په لسګونو ناچاپ اثار خپل ملت ته په میراث پرې ایښي دي.

## سعودي عربستان له افغانستان سره سل میلیونه امریکایي ډالره مرسته کوي



سعودي عربستان له افغانستان سره د سلو ښوونځیو او د کابل حلقوي سړک جوړولو لپاره سل میلیونه ډالره مرسته کوي.

د ولسمشرۍ ماڼۍ په خبرپاڼه کې راغلي چې د مرستې دغه هوکړه وړمه ورځ د سعودي عربستان په جده ښار کې د افغان ولسمشر محمد اشرف غني په حضور کې د افغانستان د مالیې وزارت سرپرست ډاکتر محمدهمایون قیومي او د انکشاف لپاره د سعودي عربستان د صندوق رییس احمد عقیل الخطیب لخوا لاسلیک شوه.

سرچینه زیاتوي چې یاد سل میلیونه ډالر به په افغانستان کې د سلو ښوونځیو او د کابل حلقوي سړک پر جوړولو ولګول شي.

د خبرپاڼې له مخې، د انکشاف لپاره د سعودي عربستان د صندوق رییس ویلي چې په افغانستان کې پر کارموندنې د تمرکز او د تاوتریخوالي د کموالي لپاره د پروژو تمویل ته ژمن دي.

# د امریکا غبرګون؛

## له طالبانو سره تر هوکړې وروسته هم د افغان ځواکونو ملاتړ کوو



۳

### د سولې لپاره د افغان پلاوي نامعلوم برخلیک

۲ مخ

### باز هم یک ضربه دیگر ایالات متحده امریکا بر سیستم امنیت جهانی

۲ مخ

### سوله، ټاکنې او د امریکا استخباراتي فتنه؛ طالبان د تاریخ ژغورنې په دریځ کې

۳ مخ

## د اروزګان دولتي مامورینو په ناقانونه توګه د ولسمشریزو ټاکنو په کمپاینې غونډه کې ګډون کړی

د اروزګان په مرکز ترینکوټ ښار کې د دولت جوړونې ټاکنیز ټیم په کمپاینې غونډه کې د نورو ګډونوالو تر څنګ، د ځینو رییسانو په ګډون دولتي مامورینو هم برخه اخیستې وه.

دغه ټاکنیزه کمپاینې غونډه وړمه ورځ په مرکز ترینکوټ ښار کې د اشرف غني په ملاتړ جوړه شوې وه، چې برخوالو یې په راتلونکو ټاکنو کې له یاد ټیم څخه د ملاتړ ژمنه وکړه.

په غونډه کې د دغه ولایت د مخورو، قومي مشرانو، کلیوالي ملکانو او عامو کسانو تر څنګ، دولتي مامورینو هم برخه اخیستې وه.

پژواک ته په رسېدلو ویډیوګانو او عکسونو کې ښکاري چې په دې غونډه کې د ولایت مقام مالي او اداري رییس او د دې ادارې یو مامور، د ولایت مقام د بشري سرچینو ریاست د سوانحو امر، د پېښو پر وړاندې د مبارزې، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ، پوهنې او ارشاد حج اوقاف ریاستونو مامورینو او د ښوونځیو لسګونو زده کوونکو هم برخه اخیستې وه.

د دې غونډې یوه ګډونوال چې د نوم له څرګندولو یې ډډه کوله، پژواک ته ویلي چې د غونډې ټولې تخنیکي چارې د ولایت مقام لخوا پر مخ وړل کېدې.

دا په داسې حال کې ده چې د ټاکنو قانون د ۹۸مې مادې په ۱۳مه او ۳۱مه فقره کې د ټاکنیزو سیالیو پر مهال د دولتي کارکوونکو لخوا د نوماندانو په ګټه یا زیان له دولتي سرچینو، اسانتیاوو او شتمنیو استفاده او هر ډول تبلیغات سرغړونه شمېرل کېږي.

## هغه کېږي چې له امریکا سره د سولې هوکړه لیک په همدې پړاو کې وروستی شي



۵ مخ

## دارالافتای سعودی: تروریزم محکوم است و حاضریم بر ضد آن فتوا صادر نماییم



شیخ سعدالشتری عضو هیأت علما و دارالافتای سعودی می‌گوید که بر اساس ارشادات دین مقدس اسلام، حملات تروریستی قابل تقبیح و محکومیت است و ما حاضریم تا بر ضد این گونه حملات، فتوا صادر نماییم.


در یک خبرنامه که از دفتر مطبوعاتی ریاست جمهوری منتشر شده آمده است که رئیس جمهور محمد اشرف غنی، با شیخ سعدالشتری مشاور پادشاه عربستان سعودی و عضو هیأت علما و دارالافتا، در اقامتگاهش در شهر جده عربستان سعودی، دیدار نمود.

منبع افزوده است که در این دیدار، شیخ سعدالشتری اظهار نمود که باید با افراطیت و تروریزم، مبارزه جدی صورت گیرد.

وی افزود که تأمین صلح و ثبات در افغانستان، یگانه آرزوی ماست، مردم افغانستان با ما همسو و هماهنگ می باشد.

شیخ سعدالشتری، قهرمانی ها و قربانی های مردم افغانستان در راستای مبارزه علیه تروریزم را قابل قدر دانست و گفت که بر اساس ارشادات دین مقدس اسلام، حملات تروریستی قابل تقبیح و محکومیت است و ما حاضریم تا بر ضد این گونه حملات، فتوا صادر نماییم.

رئیس جمهور غنی، ضمن تشکر از شیخ سعدالشتری، به نقش ارزندهٔ علما در مبارزه با تروریزم و افراطیت اشاره کرده و گفت که موقف واحد و حمایت علمای کشورهای اسلامی، در مبارزه علیه تروریزم و تأمین صلح و ثبات در افغانستان، با ارزش است.

## دریـــځ

### د سولې لپاره د افغان پلاوي نامعلوم برخليک

ټاکل شوې چې په روانه اونۍ کې د امريکا او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړه ليک لاسليک شي. د دې هوکړې په اړه ډېر جزيات نشته، خو هوکړه شوې چې ژر به د افغان پلاوي او طالبانو ترمنځ د خبرو لړۍ پيل شي. ټاکل شوې چې له کابل څخه يو ۱۵ کسيز پلاوی په دې خبرو کې برخه واخلي چې اووه غړي به يې حکومتي او اته به يې هم د سياسي ګوندونو، مدني ټولنې او نورو قشرونو استازيتوب کوي.

که څه هم ولسمشر غني وايي چې پلاوی نهايی شوی، خو حکومت په رسمي ډول نه دي ويلي چې په دې پلاوي کې به څوک وي. ويل کېږي چې په دې پلاوي کې سلام رحيمي، رنګين دادفر سپنتا، عبدالحکيم منيب، محمد ناطقي، نادر نادري، حاجي دين محمد، حفيظ منصور، عالم خليلي، عطاالله لودين، انوارالحق احدي، باتور دوستم، شاه ګل رضايي، حبيبه سرابي، لطف الله نجفي زاده او د حزب اسلامي يو غړی شامل دی، خو دا لېست رسمي سرچينو نه دی تاييد کړی.

په دې تېرو څو ورځو کې په ارګ کې د دې پلاوي د ځينو غړو ترمنځ غونډې شوې او پر دې بحث شوی دی چې دوی به له طالبانو سره پر څه او څه ډول خبرې کوي. هڅه شوې چې د دې پلاوي دريځ واحد شي او په خپل منځ کې همغږي ولري، خو ځينو کسانو له دې امله په دغو غونډو کې ګډون نه دی کړی، چې په خبره يې مشري يې حکومت کوله. د دغه پلاوي ځينو غړو ته ويل شوي وو چې ارګ ته ورشي او د سلام رحيمي په مشرۍ په غونډو کې برخه واخلي، خو د سلام رحيمي په مشرۍ اعتراض شوی او ځينو په دې غونډه کې برخه نه ده اخيستې.

که څه هم د افغان پلاوي په ټاکلو کې خليلزاد د پرمختګ او بريا خبره کړې وه، خو څو ورځې وړاندې د طالبانو د قطر دفتر وياند سهيل شاهين د دې چارې په نه بشپړېدو نيوکې کړې وې. ستونزه يوازې دا نه ده چې حکومت د دې پلاوي غړي نه دي اعلان کړي، بلکې ستونزه دا ده چې معلومه نه ده، طالبان له داسې پلاوي سره خبرې مني چې مشري يې حکومت وکړي او که نه. طالبانو پخوا له حکومت سره د حکومت په حيث خبرې رد کړې دي، خو وايي چې حکومت د نورو په شان د يوه سياسي اړخ په حيث مني او خبرې ورسره کوي. اوس پوښتنه دا ده چې خليلزاد له حکومت او طالبانو سره دا ستونزې حل کړې دي؟ ايا طالبان مني چې له حکومت سره د حکومت په حيث خبرې وکړي، که حکومت به د يوې سياسي ډلې په توګه خبرو ته ورځي؟ ايا طالبان مني چې د دې پلاوي مشري حکومت وکړي؟ ايا طالبان د پلاوي دا ترکيب مني؟ په کور دننه له سياستوالو سره د دې پلاوي پر ترکيب او څرنګوالي بحث شوی؟ دا او دې ته ورته نورې پوښتنې شته چې لا هم نه دي حل شوې او خلک نه پوهيږي چې څه شوي او څه به کېږي.

بين الافغاني خبرې ډېرې مهمې دي او پکار ده چې جدي وګڼل شي، ځکه که د طالبانو او امريکا ترمنځ هوکړه کېږي، خو که په بين الافغاني خبرو کې ستونزې وي، نو دا زموږ لپاره خطرناکې پايلې لرلی شي. له همدې امله د افغاني پلاوي غړي، ترکيب، صلاحيتونه او هر څه بايد روښانه شي. دغه راز پکار ده چې له طالبانو سره د پلاوي په اړه تفاهم وي. د دې تر څنګ په کور دننه هم بايد د دې پلاوي په اړه توافق وي، چې بيا يې پايلې ټولو ته د منلو وړ وي.

# باز هم یک ضربه دیگر ایالات متحده امریکا بر سیستم امنیت جهانی

بنابـر ابتـکار ایالـت متحـده امریـکا، پیـمان محـو راکت‌هـای دارای بـرد کوچـک و متوسـط بیـن اتحـاد شـوروی و ایـالات متحـده امریـکا (سـال ۱۹۸۷ میـلادی) بتاریـخ دوم اگسـت سـال جـاری میـلادی اعتبـار خـود را از دسـت داد. ایـن پیـمان بـه عنـوان یکـی از توافقنامه‌هـای کلیـدی در عرصـه کنـترول بـر تسـلیحات تلقـی میگردیـد. امریکایی‌هـا بـا راه انـدازی مبـارزات تبلیغاتـی مبتنـی بـر تحریـف و جعـل اطلاعـات در مـورد گویـا عـدم رعایـت مفـادات پیـمان از سـوی روسـیه، چنـد سـال قبـل آمادگـی خـود را بـرای شکسـتن پیـمان آغـاز کـرده بودنـد. دونالـد ترامـپ رئیـس جمهـور ایـالات متحـده امریـکا در ۲۰ مـاه اکتـبر سـال ۲۰۱۸ میـلادی نیـت واشـنگتن بـرای خـروج از پیـمان و همچنـان آغـاز تولیـد تسـلیحاتی را بـه‌صـورت علنـی اعـلام کـرد کـه در پیـمان منـع گردیـده بودنـد. جالـب اسـت کـه جـان بولتـون مشـاور امنیـت ملـی رئیـس جمهـور امریـکا کـه یکـی از مبتکریـن خـروج از پیـمان میباشـد، در جریـان سـفر خـود بـه مسـکو فـوراً پـس از اظهـارات ترامـپ حتـی نکوشـید ادعاهایـرا بـه آدرس روسـیه مطـرح نمایـد. برعکـس، وی رک و راسـت گفـت کـه پیـمان از نظـر امریکایی‌هـا کهنـه شـده و واشـنگتن میخواهـد از محدودیت‌هـا نجـات پیـدا کنـد تـا کـه فرصـت را بـرای جابجایـی راکت‌هـای دارای بـرد کوچـک و متوسـط را در آن جایـی از دنیـا بدسـت بیـاورد کـه لازم میدانـد. عـلاوه بـر آن، ایـالات متحـده امریـکا ملاحظـات را کـه پیـمان مسـتلزم «جلـب کشـورهای سـومی» در قـدم نخسـت چیـن میباشـد، بهانـه قـرار میـداد.

امـا، امریکایی‌هـا سـپس بـه اتهـام بسـتن‌های دروغیـن علیـه روسـیه در رابطـه بـه گویـا نقـض پیـمان پرداختنـد تـا کـه خـود را در چشـمان جامعـه تبرئـه نماینـد. چنیـن اظهـارات مثـل همیشـه بـا شـواهد بـه اثبـات نرسـیده انـد. همین‌طـور در واشـنگتن طـی مـدت طولانـی از تذکـر دادن نـوع مشـخص راکـت روسـی کـه سـبب بـروز سـوالات نـزد امریـکا گردیـده اسـت، خـودداری کـرده انـد. صـرف در سـال ۲۰۱۷ میلادی امریکایی‌هـا از راکـت نـوع 9M729 نـام بردنـد کـه روسـیه موجودیـت ایـن راکـت را هیچگاهـی پنهـان نکـرده اسـت، لیکـن از آن زمـان الـی اکنـون معلوماتـی را مبنـی بـر عـدم مطابقـت راکـت مذکـور بـا مطالبـات پیشـبینی شـده در پیـمان ارائـه نکـرده انـد. در حقیقـت ایـن راکـت هیچگاهـی در مخالـف بـا بـرد تعییـن شـده در پیـمان نـه تولیـد شـده و نـه هـم مـورد آزمایـش قـرار گرفتـه اسـت.

در واقعیـت امـر همانـا ایـالات متحـده امریـکا هسـت کـه مدت‌هـا پیـش و بـا ابـراز خشـم پیـمان را نقـض نمـوده اسـت. همین‌طـور امریکایی‌هـا از سـال ۱۹۹۹ میـلادی باین‌طـرف برخـلاف پیـمان، راکت‌هـای بالیسـتیک تعلیمـی را در آزمایش‌هـای کـه آنـرا «آزمایش‌هـای ضـد راکـت» نامیـده انـد، مـورد اسـتفاده قـرار داده انـد کـه از لحـاظ مشـخصات بـا راکت‌هـای دارای بـرد کوچـک و متوسـط شـباهت دارنـد. ایـن موضـوع بـرای واشـنگتن فرصـت داد تـا کاربـرد جنگـی راکت‌هـای مسـتقر در زمیـن را تکمیـل نمایـد کـه در پیـمان منـع گردیـده انـد. از سـوی دیگـر، امریـکا از آغـاز سـال هـای ۲۰۰۰ میـلادی طیـاره هـای سـنگین ضربتـی بـدون پیلـوت را تولیـد و مـورد اسـتفاده قـرار داده اسـت. ایـن طیـاره هـا فرصـت را بـرای انجـام وظایفـی میسـر میسـازند کـه بـا وظایـف راکت‌هـای دارای بـرد کوچـک و متوسـط مطابقـت دارنـد. بالآخـره ایـالات متحـده امریـکا بـه بهانـه حـل موضوعـات ضـد راکتـی، اسـتقرار زمینـی دسـتگاه هـای پرتـاب جامـع را در اروپـا آغـاز کـرده اسـت. در نظـر اسـت تـا سیسـتم‌های مشـابه در آسـیا نیـز جابجـا شـوند.

در مسـکو بارهـا تـلاش نمودنـد تـا امریکایی‌هـا را بـه دیالـوگ سـازنده بکشـانند. یـک سلسـله ابتـکارات پیشـکش گردیـد کـه تحقـق آنهـا فرصـت را بـرای بقـای پیـمان مسـاعد میسـاختند. بـرای اینکـه اتهامـات بـی اسـاس علیـه روسـیه را فاقـد اعتبـار کـرد، در مـاه جنـوری سـال ۲۰۱۹ میـلادی یـک نمایـش و یـک کنفرانـس خـبری در رابطـه بـه راکـت نـوع 9M729 بـرای اتاشـه هـای نظامـی کشـورهای عضـو پیـمان امنیـت دسـته جمعـی(CSTO) ، بریکـس(BRICS) و ناتـو(NATO) در مسـکو برگـزار گردیـده بـود. امـا امریکایی‌هـا و متحدیـن آنهـا در ناتـو از شرکـت در کنفرانـس بـه عنـوان اعـتراض امتنـاع ورزیدنـد.

روسـیه حـد اکـثر هـر آنچـه در تـوان داشـت، بـرای نجـات پیـمان انجـام داد، پیگیرانـه و تـا آخریـن لحظـه بـه نفـع حفاظـت از پیـمان کوشـش نمـود. تمـام تقصیـر از بیـن بـردن یکـی از توافقنامـه هـای کلیـدی در عرصـه ثبـات جهانـی و امنیـت بیـن المللـی کامـلاً بعهـده ایـالات متحـده امریـکا میباشـد. ایـن گـام منجـر بـه نابـودی کلیـه سیسـتم توافقـات در بخـش کنـترول بـر تسـلیحات راکتـی – اتمـی گردیـده و همچنـان بـه واشـنگتن امـکان میدهـد تـا از مجمـوع نامحـدود ابـزار جنگـی غـرض تحـت تأثیر قراردادن هـر متعـرض در هـر نقطـه یـی از جهـان اسـتفاده نمایـد.

# د امريکا غبرګون؛

## له طالبانو سره تر هوکړې وروسته هم د افغان ځواکونو ملاتړ کوو



امريکا تازه ويلي چې له طالبانو سره به د سولې تر هوکړې وروسته هم د افغان ځواکونو ملاتړ ته ادامه ورکوي. امريکا وايي، له طالبانو سره سولې هوکړې لاسليک به له افغان ځواکونو د دفاع او ملاتړ په برخه کې د امريکا پر ژمنو کوم اغېز ونه لري. د افغان سولې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ځانګړي استازي دغه څرګندونې د رويټرز د يوه راپور په غبرګون کې کړې دي.

رويټرز تېره ورځ د دوو طالب قومندانانو په حواله راپور ورکړی دی، چې امريکا به د سولې تر هوکړې وروسته د افغان ځواکونو له ملاتړه لاس واخلي. دغو طالب قومندانانو رويټرز ته ويلي وو، دا د سولې د هوکړې برخه ده، چې بهرنيان په تېره امريکايان به د افغان ځواکونو ملاتړ پرېږدي او د طالبانو يا حکومت ترمنځ جګړه کې به مداخله نه کوي. دغه طالب قومندانانو دا هم ويلي چې ډېر ژر به امريکايان پر طالب وسله والو د بريدونو د درېدو امر وکړي چې ورسره جوخت به طالبان هم پر امريکايي ځواکونو بريدونه ودروي.

طالب قومندانانو له رويټرز سره په خبرو کې په زور د حکومت د نيولو خبره هم کړې ده. دغه خبري آژانس ته يوه طالب چارواکي د نامه نه ښودلو په شرط ويلي: ((موږ به د افغان حکومت پر وړاندې خپلې جګړې ته ادامه ورکوو، موږ غواړو واک په زور له حکومته ونيسو)).

بل پلو د افغان سولې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزير د رويټرز پر دغه راپور غبرګون ښودلی دی. نوموړي په تازه ټوېټونو کې ويلي، ځينې رسنۍ د پروپاګندو او بې اساسه خبرونو په خپرولو سره د سولې روان بهير زيانمنوي. د ده په خبره، دغه ډول راپورونه اساس نه لري او امريکا به د افغان ځواکونو دفاع ته ادامه ورکوي.

زلمی خليلزاد وايي: ((په پروپاګندو پسې مه ګرځئ، زه به خبره درته واضح کړم. موږ به له افغان ځواکونو خپل ملاتړ ته ادامه ورکوو. د سولې تر تړون مخکې مو هم د افغان ځواکونو دفاع کړې او تر تړون وروسته به يې هم دفاع کوو)).

خليلزاد وايي، ډېر داسې مسايل شته دي چې د طالبانو او امريکا ترمنځ ورباندې بحث نه کېږي؛ بلکې په بين الافغاني مذاکراتو کې به خبرې ورباندې کېږي. نوموړی وايي: ((د افغانستان ټوله راتلونکې او اړوند مسايل په بين الافغاني مذاکراتو کې تر بحث لاندې نيول کېږي)).

د امريکا او طالبانو ترمنځ نهم پړاو خبرې روانې دي. ويل کېږي چې د دواړو لورو ترمنځ پر مهمو مسايلو هوکړې تياري شوې دي؛ خو تر دې دمه د لاسليک په تمه دي. بلخوا د دغو خبرو د ګونګوالي او د هوکړو په اړه د معلوماتو نه لرلو خلکو او سياسيونو ته اندېښنې پيدا شوې دي. تازه يوه امريکايي سناتور ويلي چې امريکا دې خپل ملي امنيت د طالبانو ته په واک کې نه ورکوي. ليندسي ګراهام ويلي وو، چې طالبان لا په افغانستان کې د ترهګرو ډلو پر وړاندې د جګړې وړتيا نه لري، نو د بهرنيو ځواکونو له وتلو سره سم ښايي په افغانستان کې يو ځل بيا ترهګرې ډلې د پښې ځای پيدا کړي.

روسيې هم په تازه څرګندونو کې ويلي چې له طالبانو سره سوله به په افغانستان کې د جګړې د پای ته رسېدو سبب نه شي. په کابل کې د روسيې سفير الکساندر مانتيتسکي ويلي وو، په افغانستان کې يوازې طالبان جګړه نه کوي؛ بلکې ډېرې ډلې دي چې وسله يې اخيستې او يوازې له طالبانو سره په خبرو ټولې ډلې له جګړې نه په شا کېږي. هغه دا اندېښنه هم ښودلې وه، چې ښايي ځينې طالبان هم له امريکا سره د سولې هوکړه ونه مني او خپلې جګړې ته ادامه ورکړي.

له دې اندېښنو سره سره، امريکا لا هم له طالبانو سره د هوکړې په اړه معلومات له رسنيو سره نه دي شريک کړي، خو وايي، په دې برخه کې پرمختګونه ډېر دي او ډېر ژر به افغان سوله د پرمختګونو شاهده وي.

# سوله، ټاکنې او د امریکا استخباراتي فتنه؛ طالبان د تاریخ ژغورنې په دریځ کې

لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

د طالبانو او امریکايي ډیپلوماتانو تر منځ په نهم پړاو مذاکراتو کې د بې ساري پرمختګ خبر ورکول شوی او ګومان کېږي چې دا ځل مذاکرات تر پخوا په ډېره مثبته فضا کې روان دي.

له دی سره په قطر کې الجزیرې عربي ټلوېزیون پر خپله ټویټرپاڼه په یوه بېړني خبر کې ویلي وو چې طالبان او امریکایان د ځواکونو وتلو لپاره پر ۱۴ میاشتني مهالوېش توافق ته رسېدلي.

د الجزیرې په وینا، د بحث یوازینی موضوع دا ده چې طالبان غواړي امریکا دې د ځواکونو د ایستلو پر مهال د جګړې څخه په بشپړ توګه لاس پر سر شي او د کابل له دولتي ځواکونو سره دې د جګړې په ډګر کې مرسته نه کوي، خو د امریکایانو لومړنی غوښتنه اوربند دی. که اوربند ممکن نه وي، نو بیا دې طالبان په جګړه کې کموالی راولي.

بل لور ته په کابل کې د امریکا سفیر وایي چې د دوی لپاره سوله تر انتخاباتو مهمه ده.

جان باس، چې په مزارشریف کې یوې خبري ناستې ته وینا کوله، ویلي چې ټاکنې او سوله دواړه مهم دي، خو سولې ته ځکه تر ټاکنو لومړیتوب ورکوي چې د افغانستان د خلکو غوښتنه ده.

د ده په وینا، ډېری افغانان سولې ته تر ټاکنو لومړیتوب ورکوي، نو امریکا ته هم سوله تر انتخاباتو ډېره مهمه ده.

نوموړي همداراز ویلي، چې دوی د سولې خبرې رواني کړې او ډېر ژر به یې مثبتې پایلې د افغانستان له خلکو سره شریکې شي.

د امریکا سفیر داسې مهال سوله تر ټاکنو مهمه ګڼي، چې افغان حکومت بیا ټاکنې تر سولې مهمې او لومړیتوب بولي.

د افغان سولې او امریکا- افغان جګړې اړوند په خبرو کې تل ستراتېژیک خنډ د امریکایي طرف متناقض دریځونه، د غوښتنو بیا بیا بدلېدل رابدلېدل او په ټوله کې د نظامي شتون په بحث کې د امریکا د اشغال امنیتي ـ دفاعي دوکتورین وو.

خو طالبانو له پیله تر ننه، نه یوازې له خپل اصلي بحث څخه چې د بهرنیانو د هر اړخیز وتلو پر سر معامله کول وو، ونه منل؛ بلکې د امریکایې سیاستوالو، نظامي شنونکو او رسنیو د ګرمو تبصرو پر بنسټ تراوسه دا امریکایان وو چې د طالبانو غوښتنو ته یې غاړه اېښې او ډېر کم څه یې د ډېر زیات څه له امله له لاسه ورکړي دي.

**امریکا، افغان حکومت ولې خنډې ته کړ؟**

د کابل ګډ حکومت د سولې هڅو اصلي لړۍ د ۱۳۹۴ لمریز کال ته ورګرځي.

د ګډ حکومت مشر اشرف غني له طالبانو سره د هغو ژمنو خلاف چې ویلي وو امریکایان به په ٦ میاشتو کې دننه له هېواده وباسي او له امریکا سره هغه امنیتي تړون چې د ډاکتر غني په مشرۍ حکومت ته پاتې دی، ملغاه به یې کړي.

خو غني چې واک ته ورسېد، نه یوازې امریکایان یې په ٦ میاشتو کې دننه ونه ایستل، بلکې تر ۲۰۲۴ ز کال پورې یې له هغوی سره د افغانانو د وژلو او قتل عام تړون په ۲۴ ساعتو کې لاسلیک کړ او د طالبانو خلاف یې تل ستوغه ژبه او له جګړې، کرکې ډک ادبیات وکارول.

نوموړي د طالب بندیانو د اعدام حکمونه تطبیق کړل، د هغوی له بندیانو څخه یې هغه امتیازات واخیستل، کوم چې د قانون له مخې د ( قید ـ حبس ) د کموالي له اړخه ټولو سیاسي او غیری سیاسي بندیانو ته د اخترونو، نوي کال او ملي ورځو په مناسبت ورکول کېدل. د هغوی د رهبرانو په ترور یې لاس پورې کړ، د پاکستان او امریکا په هڅو د طالبانو ترمنځ د سیاسي انشعاب او د دغه ملي ـ اسلامي حرکت د له منځه وړلو کمپاین یې په لاره واچاوه.

ډاکتر غني په دې هم بسنه ونه کړه، بلکې مخکې لاړ او هغه د نوموړي په فکر د مجاهدینو د برخلیک تکرار پر طالبانو. د دغې دسیسي لومړني ګامونه د کابل ـ اسلام اباد او چین، امریکا هغه ۴ اړخیزی ناستي وې، کومې چې افغان حکومت د ( ISI ) په ټېر دربولو د پاکستان سره د سولې په نوم د طالبانو د تسلیمۍ او پردي بللو ډکه ډرامه په لاره اچولې وه.

خو طالبان یې ژر پر نیت پوه شول او امریکایانو هم دغه ته ورته سناریوګانې د افغان حکومت او پاکستان په فرمایش ومنلې چې وروستي هغه یې د ۲۰۰۱ ز کال د امریکا د وخت دفاع وزیر جنرال رمز فیلډ هغه طرحه وه چې د ټرمپ د سهیلي اسیا په افغان وژنې او له سپکاوي ډکه طرحه کې یې غرض نغښتی و، کوم چې د هغې پر بنسټ طالبان به یا تسلیمېږي؛ کنه وژل کېږي.

خو د طالبانو بې ساري مقاومت او خپلو ارمانونو ته ژمنتیا دغه د اورونو، باروتو او وحشتونو ستره ستراتېژي چې د نړۍ د تر ټولو غټ غیرې هستوي بم چې د مور بم په نوم یادېږي، کارونه یې پیل و؛ ماته او ناکامه کړه.

دغو مغرضانه مانورونو او بې ساري مقاومت د امریکا تاړاکګر شتون ونګاوه، پر طالبانو د پاکستان اغېزه هسې تبلیغات ثابت شول او په ټوله کې د افغان حکومت نیت څرګند شو او امریکایانو درک کړه چې په داسې یو حکومت چې د نړۍ تر ټولو فاسد او په فساد کې لومړی ځای لري، هغه چې د پردو په پنډونو او خیراتونو چلېږي، هغه چې ٦ میاشتې خپل پوځ ته معاش نشي ورکولای، هغه چې ټول قانون یې تر پښو لاندې شوی، هغه چې ټوپکسالارۍ پکې په خپل اوج کې ده، هغه چې پارلمان یې ۳ کاله او کابینه یې ۵ کاله سرپرسته ده، ۵۲ سلنه خلک یې د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي، هغه چې ۱۰۰ کیلومتره جغرافیه یې امنه نه ده، هغه چې ۲۰ سلنه امنیتی ځواکونه یې په ۵ کلونو کې وژل شوي، هغه چې د ګاونډي هېواد د ویزې ترلاسه کولو لپاره یې وګړي مړه کېږي، هغه چې ۵ میلیونه وګړي یې وزګاره دي، هغه چې ۱۰۰ سلنه انکشافي او ۵۰ سلنه اختیاري بودجه یې بهرني مرسته کوونکي تمویلوي، هغه چې هېڅ ملي ستره اقتصادي پروژه چې حداقل ۱۰۰۰ تنه وګړي پکې کار وکړي، نه لري او دې ته ورته په سلګونو نورو نادودو کې تر غاړې ډوب دی؛ ملاتړ، پانګونه او تر ټولو مهمه دا چې ورته متوجې ماتې ولې جبران کړي، ولې لکه د ټرمپ په خبره، له ځانه د شوروي اتحاد پر ځای کوچنۍ روسیه جوړه کړي.

**افغان حکومت ته ټاکنې او امریکا ته سوله لومړیتوب لري**

داسې مهال چې دواړه لوري ( طالبان ـ امریکا ) یو ستر اعلان ته چمتوالی نیسي او افغان ملت د یوه ۴۰ کلن ناورین د پای تمه لري، د ډاکتر غني په مشرۍ ۵۰ سلنه حکومت ته بیا ټاکنې لومړیتوب لري او د پردیو ټانګونو او چورلکو په رحمت کې د ورځې ۳۰۰ افغانانو وژنه او د ۵ کلونو جګړې ته تلل د واک او قدرت لپاره یو بې ارزښته او هېڅ قرباني ګڼي.

دوی امریکا ته د جګړې د دوام او د افغانانو د وژلو په برخه کې د لګښت د کموالي جالبې طرحې وړاندې کړې، د جګړې دوام د امریکا د شیطانۍ ځواک په خیر ګڼي او په ټوله کې دغه اقلیت سوله دښمنه کړۍ چې په امریکایي ویټامینو ستر شوي، رواني تپلي او نیابتي جګړې مېلیاردران کړي او د رنډو سرمایو او بې زحمته بنګلو څښتنان دي، اولادونو یې د افغان انسان کړاوونه نه دي ګاللي، اوس همدوی د سولې تر ټول بد دښمنان او خنډ دي.

د دې ترڅنګ، همدا اوس د هېواد ۵۵ سلنه جغرافیه د دوی له واکه وتلې، د ۱۳۹۸ لمریز کال د ولسمشریزو ټاکنو اکثریت نوماندان د ټاکنو روښوالي خیال او د سراسري والي مهال ګڼي. دغه راز د ټاکنو د ثار بنسټونه بیا له سره د ټاکنو کول ممکن نه ګڼي او د ټاکنو د کمېسونونې طرفي او وړتیا تر پوښتنې لاندې راولي. بل لور ته طالبانو ټاکنې پخپلو نظامي اهدافو کې شاملې کړې، نړیواله ټولنه او افغان ملت د ټاکنو خلاف یوازې د سولې اړوند اجماع لري او د ټاکنو کمېسیون په یو تازه خبر کې رسنیو ته ویلي چې په همدغه ۴۵ سلنه جغرافیه کې هم د زرګونو ټاکنیزو مرکزونو د بندېدو ګواښ حتمي دی.

په داسې یوه وضعیت کې امریکا ته سوله لومړیتوب او دوی ته ( ټاکنې او جګړه ) د دغې بې شرمۍ شرمېدلې انتها ښیي.

**داعش، د (CIA) افغان ملېشې او د بلې جګړې وېره**

د دې ټولو سره سره، امریکا د خپل ۱۹ کلن شتون په جریان کې د وحشت د تداوم، د استخباراتي شبکو او جالونو د خورولو او په ټوله کې د خپلې ستراتېژیکې ژورتیا پر بنسټ په افغانستان او سیمه کې د مخامخ جګړه مار شتون ترڅنګ د یوې پراخې استخباراتي جګړې او جاسوسو مانورونو تابیا هم کړې ده.

زما په باور چې دغه باور د امریکا د ولسمشر ټرمپ په استخباراتي شتون له بې حده ټینګار څخه هم جوته ده. دا چې امریکا د سولې په روان بهیر کې دوه مخي، نارښتینولي او ټګ چلند کړی او هغه به له سولې وروسته په افغانستان کې د خپلو استخباراتي عناصرو پرمټ چې داعش یې نا رسمي او د سي ای اې افغان ملېشې یونیفورم لرونکی ځواک دی، د جګړې نیت ښودنه کړې. د بېلګې په توګه، په افغانستان کې د داعش د وحشي ترهګریزې ډلې له رامنځته کېدو تر ننه یوځل هم دغې ډلې امریکایان خپل نظامي هدف نه دي ګرځولي.

د دې ترڅنګ په بلخ کې مېشت د شاهین قول اردو چې لکه د خوست KFC ځواک، مستقیماً د CIA له کابل سټېشن څخه امر، نهې اخلي.

دغې قول اردو دوه ځله له جوزجان او سرپل څخه داعشیان د طالبانو له شدیدې محاصرې څخه ژغورلي او په نظامي چورلکو کې یې د هوايي دهلېز له لارې په VIP بڼه کابل ته انتقال کړل.

د دې سره سره، کله چې د طالبانو له خوا پر داعش ترهګرو زور راشي او د محاصرې کړۍ پرې تنګه شي، نو داعشیان طالبانو ته نه، حکومتیانو ته تسلیمېږي؛ هغه چې تازه کونړ کې یوځل بیا پر داعشیانو د طالبانو له بریدونو وروسته یوه ډله داعش ترهګر بیا هم حکومت ته تسلیم شوي.

د دې ترڅنګ امریکایي سیاستوال، نظامیان او رسنۍ له کله چې د سولې خبرې یوې پایلې ته نږدې شوې، دوی د داعش ډله د امریکایي ګټو او ملي امنیت ته ګواښ بللې او د هغه غټ ښودنه او هڅونه یې شروع کړې.

په افغانستان کې د امریکا د استخباراتي شتون له بحثه وروسته په امریکا کې د بروان پوهنتون یوه نوې څېړنه وایي چې د سي ای اې افغان ملېشې د افغانستان د سولې په لاره کې ستر خنډ دي او د امریکا مرکزي استخبارات د دې افغان ملېشې ملاتړ کوي او معاش، روزنه، او وسلې یې سي ای اې ورکوي.

د بروان پوهنتون تحقیقات یو ځای وایي: «د سي ای اې افغان ملېشې یوه خطرناکه قوه ده. هغوی ته لوړ معاشونه ورکول کېږي او زیات امتیازات لري. هغوی به د خپل معاش د کمېدو سره سخت مخالفت وکړي او نه به هم په افغان امنیتي قواوو کې د ادغام لپاره علاقه وښیي. که چېرې سي ای اې هغوی خوشې کړي، هغوی به د یوه جنګسالار سره یو ځای شي او یا به پر مختلفو ډلو ووېشل شي او ملکي کسان او سوداګر به شکوي».

دا تحقیقات وایي چې د سي ای اې افغان ملېشې ډېر ملکي خلګ قتل کړي او د بشري حقونو څخه یې سرغړونې کړې دي. دغه افغان ملېشې د حکومت تر کنټرول لاندې نه دي، هغوی به د افغان دولت د جوړولو پروسه تخریب کړي او هم به د دایمي سولې چانس خراب کړي.

له دې سره جوخت (سي ای اې) یوازې په افغانستان نه، بلکې په عراق کې د عراق زامنو په نوم یو ( ۱۰۰ زره ) ملېشه ځواک جوړ کړی و. کله چې امریکایان په ۲۰۱۱ ز کال کې له عراقه وتل، نو د دغه ځواک چارې یې بې برخلیکه پرېښودې او دا ځواکونه بیا د نوري المالکي له حکومت سره پر لږ معاش قانع نه شول او د ناقانونه او وحشي مزاج پر بنسټ له حکومت سره پر جګړه واوښتل، هغه چې بیا د دوی لوی شمېر داعش جذب او د دغې ډلې په لیکو کې د وحشت تر ټولو ځناور ټیکداران وګرځېدل، د دوی کړنو نه یوازې د امریکا ښنه ببرته عراق ته ورخلاصه کړه، بلکې عراق او سوریه دواړه یې د نړیوالو استخباراتي جګړو، وحشتونو او غوبلونو پر لوبغالي بدل کړل.

امریکایان هم د خپل دغه ځواک د ساتلو او د داعش د سوکه، سوکه غځولو له لارې یقیناً چې د یوې بلې جګړې تابیا نیسي. زما د مالوماتو له مخې، په دغه پروژه کې د افغان حکومت د ملي امنیت د ادارې پر شمول د شاهین قول اردو او یوشمېر نور خاین او پردیپال جوړښتونو او عناصر غوښنه برخه او تر ټول خطرناک ونډوال دي.

**طالبان او د یوه ملت د تاریخ له مسخې ژغورنې دریځ**

په داسې وضعیت کې چې امریکایي ولسمشر ټرمپ د دویم ځل لپاره د جګړې ټېکې او اشر ته د سیمې او نیمې نړۍ شریران رابللي او د تاجکستان د دفاع وزیر شیرعلي میرزاه هم له روان حالته خپل هېواد ته د متوجې ګواښونو څخه د ځان ژغورنې لپاره پر روسیې غږ کړی چې مرستې ته دې ور ودانګي او د افغانستان په پېچلې کشاله کې دې مداخله وکړي، ښیي چې ګران افغانستان د یوشمېر نا اهلو له لاسه د یوه بل ګړنګ پر غاړه دی. هغه چې د لېوانو پر څېر له څیروونکو ګاونډیانو نیولې بیا د نړیوالو شریرو ځواکونو تر پټو او ښکاره دسیسو سره مخ دی.

داچې طالبان یوځل وړاندې هم د دغسې یوه ګونګ، پېچلي او خورا خطرناک حالت څخه چې هغه د ګران افغانستان تجزیه، د قومي جګړو نغاره او په ټوله کې د یوه عظیم ملت د تاریخ د ماتېدو، غرقېدو او تباه کېدو څخه دا ستر ملت په وروستۍ مېړانه وژغوره، داځل هم د تاریخ دا ستره سربښندنه چې منلې وه، یوځل بیا دا پېټی جګ کړي، دا رهبریت ومني او پرې نه ږدي چې لږ تر لږه یو ملت بیا مات نشي.

داچې تر اوسه مو د ډیپلوماسۍ او سیاست په ډګر کې بې ساري بریا د یوه عزتمن او ځواکمن دریځ پر بنسټ ترلاسه کړې، خو د دوحې نهم پړاو مذاکرات او د دغه پړاو د مذاکراتو پر محور جنجالي بحثونه چې هغه د سولې وروسته افغانستان د تاریخي ثبات د مراندو ټینګېدو په لار کې بنسټیز او ستراتېژیک ګامونه دي، باید چې پرې ثابت پاتې شي.

تاسو باید هغه ننګونې چې نن یې قوي احتمالات شته، د سبا افغانستان چې سوله ده؛ حتمي وګڼئ او د نن دغه کار باید د سبا یو ملت نور جبران نه کړي، نور ماتېدل باید پای ومومي، نور باید د جګړې د ډګرونو او سربښندنو جبیره په مدبرانه سیاست او مذاکراتو کې وشي او د ذکر شویو ټولو اندېښنتو او ګواښونو مخه باید نن ونیول شي.

# روحاني: د هېواد د ملي ګټو لپاره به له هر ډول وسیلې کار واخلو



د ایران ولسمشر حسن روحاني ویلي چې هېواد به یې د خپلو ملي ګټو لپاره له هرې وسیلې کار واخلي.

روحاني ویلي چې ایران باید له اقتصادي او پوځي پلوه ځواکمن وي. هغه زیاته کړې چې هېواد یې له پراختیا پرته بله هېڅ لار نه لري او د دغه هېواد حکومت به د خپلو خلکو د ستونزو د حل لپاره له هېڅ ډول هڅو مخ وا نهړوي.

روحاني ویلي: «زه باورمن یم چې د هېواد د ملي ګټو لپاره مو له هرې وسیلې کار واخیستل شي او که چېرې زه پوه شوم چې یوې غونډې ته ولاړ شم او له چا سره ووینم، چې زما هېواد ابادېږي او د خلکو ستونزې حلېږي، زه به دریغ ونه کړم. اصل زموږ د ملت ملي ګټې دي».

دا څرګندونې په داسې حال کې کېږي، چې پر تهران د واشنګټن سخت بندیزونه وضع شوي دي.

له دې سره هممهاله د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ چې د جي- اووه سازمان غونډې د ګډون لپاره فرانسې ته تللی، ویلي چې امریکا د ایران د رژیم د بدلون غوښتونکې نه ده، بلکې غواړي چې ایران پر یوه شتمن هېواد بدل شي.

ټرمپ ویلي: «زه واقعاً د یوه ښه او ځواکمن ایران غوښتونکی یم. موږ نه غواړو چې د ایران رژیم بدلون وکړي، تاسو لیدلی چې هغوی په تېرو شلو کلونو کې څه ډول کار کړی، یعنې ډېر ښه نه و، راځئ چې اجازه ورکړو، دغه هېواد شتمن شي، راځئ چې هغوی ته ووایو چې ښه کارونه تر سره کړي».

د روحاني دا څرګندونې داسې مهال دي چې په فرانسه کې د جي- اووه سازمان له غونډې سره هممهاله د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف هم د اروپایي هېوادونو له ځینو مشرانو سره لیدلي دي.

بلخوا د جرمني لومړۍ وزیرې انګلامېرکل د ایران د بهرنیو چارو وزیر خبرې ښې او جوړوونکې بللې دي.

د یادونې ده چې د واشنګټن او تهران اړیکې وروسته له هغې ترینګلې شوې، کله چې د ټرمپ په مشرۍ د امریکا حکومت په ۲۰۱۸ ز کال کې له ایران سره د نړیوالو پیاوړو هېوادونو له شوي اټومي تړونه ووت او پر دغه هېواد یې نوي بندیزونه ولګول.

## د کتـــاب خبـرې

# پښتانه


## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

### دوهم څپرکی

### له سوله ییزو سرحدي سیمو د افراطیت تر بستره




حسن کاکړ چې یو مشر افغان تاریخ پوه دی او په کلیفورنیا کې اوسېده، د ۲۰۰۱ز کال په پسرلي کې یې افغانستان ته سفر کړی و، په سلگونو افغان مشرانو، د طالبانو له وزیرانو او په افغانستان او پاکستان کې یې د هغوی له مشاورینو سره کتلي وو. نوموړی لیکي، طالبانو ویل چې هغوی د داوود خان د وخت مدني قانون پلی کوي. کاکړ زیاتوي، حقیقت خبره دا وه چې هغوی د اسلام او کفر په منځ کې راگیر وو. که څه هم هغوی شوراگانې او مجلسونه لرل، خو اصل پرېکړه د ملا محمدعمر پر شاوخوا د را ټولو کسانو وه. کاکړ چې له خلکو سره ډېرې اړیکې لري، وایي کله چې د نړۍ په اړه د طالبانو په لنډ او واړه لیدلوري پوه شو، خورا ویښ شوی و. هغه هېڅ باور نشو کولای چې طالبانو نه غوښتل افغانان دې له غیر مسلمانو هېوادونو سره اړیکې ولري، هغه لیکي: ((طالبان نه غواړي، افغانان د کفارو په منځ کې ژوند وکړي. هغوی خلک د مذهب پر بنسټ سره بېلوي.)) کاکړ لیکي په افغاني ټولنه کې طالبانو یو جوړښتي بدلون راوستی و، هغه دا چې ځایي دیني عالمانو ته یې ډېر واک ورکړی و، هغوی ته یې د عشر اخیستلو حق هم ورکړی و. کاکړ زیاتوي چې د طالبانو ډېر تمرکز پر خپل قدرت و، کله چې به په رخصتیو او یا هم د جگړې له لیکو د لیدنې لپاره تلل، هغوی به پر خپلو دندو خپل خپلوان پرېښودل چې د هغوی دنده ترسره کړي.

د طالبانو یو نوښت دا و چې امربالمعروف او نهی عن المنکر اداره یې جوړه کړې وه. دا هماغه د سعودي سېسټم ته ورته اداره وه چې اخلاقي مسائل یې څارل. دا د حکومت هغه څانگه وه چې ټولنیز کنټرول یې کاوه او د غیر رسمي استخباراتو دنده یې پر غاړه وه چې په پای کې یې لاسونه دومره اوږده شوه چې د عامو افغانانو کورونو ته هم ورسېدل. په زرگونو تنکیو ځوانانو چې له مدرسو فارغ شوي وو، سروکار یې تر ډېره له کلاشینکوف او ماشې سره و، د منکراتو د کنټرول دنده یې پر غاړه لرله. د دوی دنده دا وه چې د طالبانو اخلاقي قوانین په ټینگه پر خلکو عملي کړي. د کابل، مزار او هرات په لویو ښارونو کې د منکراتو د ځوانو طالبانو له لوري له غیر پښتنو سره تبعیض کېده. له کلونو وروسته په ۲۰۰۱ز کال د طالبانو د عدلیې وزارت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر ادارې لپاره قوانین جوړ کړل چې په لاندې توگه وو:

((هره مېرمن چې له خپل کوره بې حجابه بهر وځي باید ژر تر ژره وپېژندل شي، د هغې خاوند ته باید ژر تر ژره جزا ورکړل شي او یا خو هغې ته گواښ وشي چې دا ډول کار بیا تکرار نه کړي. که دا ډول بې حجابه ښځه په کوم عامه ترانسپورټي موټر کې ولیدل شي، باید موټر چلوونکی له یوې تر پنځو ورځو زنداني شي. که کوم کس په کوم دوکان یا هوټل کې د میوزیک په اورېدلو او یا د ټلویزیون پر ننداره ونیول شي، د فعل د اجراء ملکیت چې د هر چا وي، یا هم د میوزیک اړوندې الې د هر چا وي، هغه باید له یوې تر شلو ورځو زنداني شي. د هغه کس کاروبار هم باید د پنځو ورځو لپاره وتړل شي.))

د طالبانو لپاره اسلامي شریعت اساس نه بلکې د هغوی خپل فکر، خپل تفسیر او اخیستنه ورته اساس او یوه وسیله وه. هغوی حدود جاري کول چې پکې قصاص، د لاس او پښې پرېکول او نور شامل وو. د طالبانو مشرانو په ۱۹۹۸ز کال د (دستور) په نوم یو اساسي قانون هم ولیکه، خو تر پایه توشېح او خپور نشو، دا هم نه ده څرگنده چې یاد قانون څومره پلی شو، خو ټولو هغو مسائلو ته ځواب پکې ویل شوی و چې هغه مهال په افغانستان کې روان وو. یاد قانون د شلمې پېړۍ له نورو افغاني اساسي قوانینو سره یو شان و، په دې قانون کې افغانستان د مرکزي دولت څښتن یاد شوی و، د حنفي مذهب پر بنسټ اسلامي شریعت تر ټولو لوړ قانون یاد شوی و، خو نور پاتې قوانین د فرعي قوانینو په توگه منل شوي وو، خو ټولیزه تکیه یې د داسې یوې ټولنې پر جوړېدو وه چې پکې بشپړ اسلامي قوانین پلي شي.


د دې قانون په اوومه ماده کې راغلي وو چې په دولت کې د دندې لپاره لومړی او اساسي شرط تقوا وه. د بد اخلاقیو او منکراتو پر وړاندې مبارزه د ټول ملت او دولت دنده شمېرل کېده. د دولت له دندو یوه دا هم وه چې خلکو ته د اسلامي او عربي ژبې د زده کړې زمینه برابره کړي. تر ټولو زیات اجرایوي صلاحیتونه امیرالمؤمنین ته ورکړل شوي وو. هغه په تقنیني او قضایي ځواکونو کې هم د مقرریو او عزل صلاحیتونه لرل. د جمعې ورځې په لمانځه کې به خطبه د امیرالمؤمنین په نوم ویل کېده ترڅو د هغه د مشروعیت مزي لا ټینگ وساتي.

په بهرني سیاست کې هم اصولي اساس د اسلام مبارک دین گڼل کېده. د دې اساسي قانون ۹۹یمې مادې داسې وضاحت لاره: ((د افغانستان اسلامي امارت د ملگرو ملتونو د منشور، اسلامي کنفرانس سازمان او د عدم تعهد له جنبش څخه ملاتړ کوي، تحریک همدارنگه د بشر حقونو د نړیوالې اعلامیې ملاتړ کوي، خو چې له اسلام مبارک دین او د افغانانو له ملي گټو سره په ټکر کې نه وي.))

دوام لري...

# محمد آصف محسني

شفیق امیرزی



آیت الله محمد آصف محسني د ۱۳۱۴هـ ق کال د ثور په پنځمه په کندهار کې زیږېدلی دی. ده د کندهار په لومړۍ ناحیه کې سترگې نړۍ ته وغړولې او په همدې ځای کې یې د ماشومتوب ژوند تېر شو. پلار یې د کندهار شعیه مېشتی و او پر خپل زوی یې محمد اصف نوم کېښود. پلار یې د خپل کور د قرآن کریم په یوه پاڼه کې د محمد اصف محسني د زیږېدو نېټه د ۱۳۱۴هـ ق کال د ثور ٦مه کښلې ده. محسني د افغانستان د تاریخ، مذهبي بحثونو، جهاد، فرهنگ او علمي حوزې مشهوره څېره ده او ډېر کم خلک به وي چې د نوموړي ویناوې یې نه وي اورېدلې.

هغه شعیه مذهبه دیني عالم، مبصر، ویناوال او څېړونکی و چې په شعیه مذهب کې یې د ډېرو خرافاتي او افراطي مواردو مخه نیوله او د خلکو د اذهانو په روښانه کولو کې یې پوره هڅه کوله. دی له لومړۍ ورځې د خرافاتي او تکراري ژوند مخالف و او له همدې امله یې له پلاره وغوښتل چې دی له هېواده بهر د زده کړو لپاره ولېږي، ځکه په شاوخوا کې یې دین او مذهب خرافاتي بڼه خپله کړې وه او هر څه له زغمه وتلي وو. د محسني کورنۍ باعلمه غړي لرل، نیکونه او پلرونه یې دولتي کارکوونکي وو. مورني نیکونه یې بیا ځمکه وال او سوداگر وو. تر ډېره د مسگرۍ او بقالۍ پر کارو بار بوخت وو. پلار یې لومړنۍ زده کړې په کور کې ورته پیل کړې. دی وایي چې پلار یې یو متدین او سختگیره سړی و. ده نه غوښتل چې زوی یې ښوونځي ته لاړ شي، ځکه په باور یې هلته یې اخلاق خرابېږي. پلار یې په کور کې ده ته د دیني علومو تدریس پیل کړ. دی لس کلن و، خو پلار یې په ده سختې زده کړې کولې او دی یې هڅاوه چې د ښوونځي په ځای په کور کې زده کړه وکړي. له څه مودې وروسته یې لیکل او لوستل زده کړل. بیا چې نوی زلمکی شو، څه موده یې د برېښنا په شرکت کې کار پیل کړ. په ۱۳۳۰ ه ق کال کې د سوداگرۍ خونو ته لاړ او د اجرایي کاتب په توگه یې دنده پیل کړه. خو دلته یې حوصله تنگه شوه. دی شپاړس کلن و او خو د ژوند له ورځني تکرار ستړی شوی و. دی پخپله وایي، ژوند راته تکرار و. هر څه خرافاتي او افراطي وو.

ده یې له پلاره وغوښتل چې بهر ته د تگ اجازه ورکړي؛ خو پلار یې نه ورسره منله. پلار یې ټینگ و چې دی باید له هغه سره وي، ځکه کېدای شي زیان ورته ورسېږي. خو محسني ټینگ و چې باید په زده کړو پسې لاړ شي. دی اعتصاب کوي او پلار ته یې وایي، تر هغه ډوډۍ نه خوري چې بل ځای ته یې د زده کړو لپاره نه وي لېږلی. دی وایي، تر مرگه یې له پلار سره نانډرۍ نه دي وهلې او نه په لوړ غږ ورسره غږېدلی دی، خو پر خپله خبره یې ټینگار کاوه چې باید په زده کړو پسې لاړ شي. خو تر ډېرې مودې وروسته یې پلار دې ته تیارېږي چې دی د زده کړو لپاره بل ځای ته ولېږي.

پلار یې پر دودیزه روزنه باور درلود. هغه به یې تل خپل زوی ته د خپلې نیا کیسې کولې. پلار به یې ویل چې نیا یې بې سواده وه، خو ډېره دینداره ښځه وه او دا یې غوښتل چې د کور ماشومان یې خدای او سمه لار وپېژني.

نوموړي په کندهار کې هم له ځینو علماوو زده کړې وکړې، خو د ده په خبره قناعت یې حاصل نه شو. په جاغوریو کې د کلي او ښار توپیرونو حیران کړ. ده به ویل، په دې وخت کې پوه شو چې ښار کې چل، فریب، دوکه او د نورو تېر ایستل ډېر دي. خو په کلیو کې خلک صادقانه ژوند کوي او اصلي انساني ژوند په کلیو کې پیدا کېږي.

شیخ محسني ښه حافظه درلوده او ځیرک انسان و. ډېری هغه کسان چې یو وخت ده ترې زده کړې کولې وروسته یې شاگردان شول. ډېری هغه کسان چې په جاغوریو کې د ده استادان وو، وروسته په کابل او نورو ځایونو کې د ده شاگردان شول. هغه په زده کړو کې د ځنډ او رخصتۍ مخالف و. پرته له سختې ناروغۍ یې یوه ورځ هم زده کړې او مطالعه نه پرېښودل.

په ۱۳۲۸ لمریز کال له پلار سره پاکستان ته تللی و، هلته یې اردو ژبه زده کړه. په ۱۳۳۲ لمریز کال کې د عراق ونجف ښار ته لاړ، هلته یې دوه نیم کاله زده کړې وکړې. شیخ محسني تر نجف مخکې ایران ته تللو، خو د وخت حکومت اجازه ور نه کړه او ستونزې ورته پیدا شوې. دی وایي، دا اجازه د ده په خیر تمامه شوه، نو ځکه دی نجف ته لاړ او هلته یې مهم مسایل ولوستل. نجف د شیخ محسني د ژوند لپاره خورا له سختیو ډک ځای و. دی وایي، پلار یې له دې ځایه ورته د هغه وخت دېرش یا څلوېښت زره افغانۍ لېږلې، خو پر هغه گزاره نه کېده، ده به په دې پیسو کتابونه اخیستل. وایي، مدرسې درې وخته ډوډۍ ورکوله، خو د درېواړو وختونو ډوډۍ یې یو وخت هم نه بس کېدله، خو دوی به گزاره کوله.

محسني دلته د مذهبي علومو تر څنگ د معاصرو علومو او فلسفې مطالعه هم کوله. دلته یې کتابونه او رسالې هم ولیکل. محسني لیکي، د دوی په علمي حوزه کې د فلسفې مطالعه بنده وه، خو ده غوښتل د خلکو پر افکارو او نظرونو پوه شي. دی وایي، ما غوښتل وپوهېږم چې خلک څه وایي، فلسفه څه وایي، همدې مسئلې زما ویناوې او فکر ژور کړل.

شیخ محسني صاحب تر دوولسو کالو زده کړو او تحصیل وروسته بېرته کندهار ته راغی، دلته کندهار کې یې حسینیه جامع مسجد او مدرسه تاسیس کړل. شیخ محسني اصل کې کندهار ته د واده لپاره راغلی و، خو حکومت د بېرته تگ امکانات ورته برابر نه کړل. دی همدلته په کندهار کې پاتې شو. دی وایي، له خلکو سره هسک ټیټ شوم او دې مسئلې زما په ژوند کې پورته تغیر راوست. همدې مسئلې دی اړ کړ چې په کندهار کې دیني مرکزونه جوړ کړي. ده به ویناوې کولې، له خلکو به یې پیسې ټولولې او دیني مرکزونه به یې جوړول. دی وایي، ان ښځو خپلې گاڼې ورکولې چې روزنیز مرکزونه ورباندې جوړ کړي.

وروسته یې په ایران او پاکستان کې هم ویناوې پیل کړې. له خپلو ویناوو به یې پیسې ټولولې. وروسته یې دا پیسې په کابل کې د یوه ستر مذهبي او علمي مرکز پر جوړولو ولگولې. له دې سره جوخت په اروپا، امریکا او نورو هېوادونو کې لویو سوداگرو له دې مرکز سره مرسته وکړه. محسني د دغه مرکز جوړېدل د پخواني ولسمشر حامد کرزي د احسان پوروړی بولي. د ده په خبره، په ځلونو خلکو وغوښتل دا سیمه غصب کړي، ځمکه یې ونیسي، خو حامد کرزی یې پر وړاندې ولاړ و.

په ۱۳۵۷ لمریز کال حج ته لاړ، د حج تر اداینې وروسته یې سوریې ته سفر وکړ، هلته یې هم څو میاشتې پر زده کړو او تحصیل تېرې کړې، له هغه ځایه د افغاني روحانیونو په غوښتنه د ایران قم ښار ته لاړ. شیخ محسني د هېواد وضعیت ته په کتو یوازې په علمي حوزه کې پاتې نه شو. شیخ محسني صاحب د ۱۳۵۸ لمریز کال په حمل میاشت کې د حرکت اسلامي په نوم گوند جوړ کړ، د دې گوند غړو د شوروي اتحاد پر ضد د هېواد په ډېرو سیمو کې مسلحانه جهاد پیل کړ. په ۱۳۷۱ لمریز کال کې د مجاهدینو تر بریالیتوب وروسته شیخ محسني د اسلامي دولت د رهبرۍ شورا ویاند وټاکل شو. کله چې مجاهدینو خپل منځي جگړې شروع کړې، نو ده هڅه کوله چې ټول په یوه ټغر سره راټول کړي. شورای اخوت یې جوړ ه کړه او هڅه یې کوله چې د سني او شعیه مسلمانانو ترمنځ فاصلې له منځه یوسي. خو کله یې چې پر ځان کړۍ تنگه ولیده، نو کابل یې پرېښود او د پاکستان په اسلام اباد کې استوگن شو. له هغه ځایه په ۱۳۷٦ لمریز کال کې د ایران قم ښار ته ولاړ، هلته یې تدریس شروع کړ. په افغانستان کې د طالبانو د نظام تر سقوط وروسته بېرته خپل هېواد ته راستون او په کابل ښار کې مېشت شو.

شیخ محسني د علم او فن پلوی و. ده د افغانستان ژغورل یوازې د علم له لارې ممکن بلل. ده به تل مطالعه کوله، دی وایي چې د مرگ تر ورځې به هم مطالعه پرې نږدي. د ده د کورنۍ غړي هم وایي چې شیخ محسني هېڅ وخت مطالعه نه ده پرې اېښې او هڅه یې کوله. شیخ محسني په علم کې غرور نه منلو. ده به ویل، یوه ډله ملایان دي چې ځان واجب الاحترام بولي او له نورو غواړي چې دوی ته احترام وکړي. ځان لوړ ورته ښکاري، خو په خبره یې زه نه اکاډمیسن یم او نه بې سواده. په دې مانا چې نه دومره بې علمه دی او نه هم دومره علم لري چې دی دې نور مطالعه بس کړي. هغه په علمي حوزو کې د ایت الله، اکاډمیسن، غوره څېړونکي او نور لقبونه خپل کړي دي. شیخ محسني د عام او خاص درناوي وړ شخصیت و، ځکه هڅه یې دا وه، چې ټول افغانان شعیه او سني د یو بل تر څنگ د ورورۍ ژوند وکړي. هغه د اخوت شورا موسس و او تر څنگ یې د افغانستان د شعیه علماوو شورا هم جوړه کړې وه. دی د افراطیت او دودیزو زده کړو مخالف و. ده به ویل چې د افغانستان ښوونځي او مدرسې له نوي عصر سره سم زده کړو او تعلیم ته اړتیا لري او اوسنی تعلیمي او تحصیلي نصاب باید بدل کړل شي.

شیخ محسني په هېواد کي د یو منلي شیعه مذهبي مشر په توگه ځانگړی ځای درلود. د ژبې په فصاحت او روان اصلاحي وعظ سره یې ډېر شایقین خصوصاً ځوانان او لوستې طبقه پر ځان مات کړي وو. شیخ تر ٦٥ ډېر علمي، دیني، فرهنگي او سیاسي اثار لیکلي دي. د دې تر څنگ ناچاپ اثار هم لري چې د ده کورنۍ او نږدې شاگردان یې د چاپ تکل لري. شیخ محسني په فارسي، عربي، اردو او پښتو ژبو بلد و. شیخ محسني د روان کال د اسد میاشتې په ۱۴مه له دې نړۍ لاړ. هغه تر شا ستر فرهنگي اثار، فرهنگي مرکزونه او زرگونه شاگردان پرېښودل.

روغتیا

# ۸ علت بیدار شدن از خواب در شب و راه‌های درمان آن

**ترجمه: داکتر احمد فردوسی**

بیدار شدن از خواب در شب مسئله‌ای است که عدهٔ نسبتاً زیادی با آن دست و پنجه نرم می‌کنند. در آمریکا روی ۸۹۳۷ نفر تحقیقی دربارهٔ کیفیت خواب‌شان صورت گرفت. طبق نتایج این تحقیقات، چیزی حدود یکی سوم شرکت‌کنندگان حداقل سه شب در هفته، در میانه خواب بیدار می‌شدند و بیش از ۴۰ درصد این افراد، برای خوابیدن دوباره به مشکل برمی‌خوردند. شاید از موهبت داشتن خواب راحت شبانه بهره‌مند باشید، اما اگر این‌طور نیست، در ادامه این مطلب با ما همراه باشید. در ادامه ۸ علت بیدار شدن از خواب در شب را برخواهیم شمرد. راهکارهایی هم برای رهایی از آنها در اختیارتان خواهیم گذاشت.

**۱. بیش از حد گرم، سرد، پرسروصدا یا روشن بودن اتاق**

«آستانه برانگیختگی» اصطلاحی است که به میزان سادگی یا دشواری بیدار شدن ما از خواب اشاره دارد. این آستانه برای هرکس بسته به مرحله خواب متفاوت خواهد بود. خوابیدن ۴ مرحله دارد و پس از آنکه به خواب می‌رویم، به مرور بدن از یکایک این مراحل عبور می‌کند. البته بعضی‌ها ۳ مرحله برای خواب در نظر می‌گیرند. همانطوریکه احتمالاً می‌توانید حدس بزنید، مرحله اول خواب به سبک‌ترین حالت خواب اختصاص دارد. در این مرحله، اتفاقی مثل محکم بسته شدن در یا افتادن نور موتر روی پنجره اتاق می‌تواند از خواب بیدارمان کند. عواملی محیطی دیگر مثل بیش از حد گرم یا سرد بودن اتاق هم می‌توانند باعث بیداری‌مان در این مرحله شوند.

در حالت ایدئال، وقتی می‌خواهیم بخوابیم، اتاق باید کاملاً تاریک و بی‌سروصدا باشد. عامل مهم دیگر دمای اتاق است که باید متعادل و مناسب باشد. بیشتر ما امکان به وجود آوردن این شرایط ایدئال را نداریم، اما کارهایی از دست‌مان برمی‌آید که برای داشتن خواب بهتر می‌توانیم انجام بدهیم. مثلاً می‌توانیم از گوش‌گیر و چشم‌بند استفاده کنیم یا پنکه‌ای برای خنک کردن اتاق فراهم کنیم.

**۲. اضطراب**

اضطراب عامل مهم و تأثیرگذار دیگری است که باعث بیدار شدن از خواب در شب می‌شود. بی خوابی یا دشوار شدن به‌خواب‌رفتن یکی از شایع‌ترین نشانه‌های اختلال اضطراب است. پیامدهای این اختلال هستند که باعث می‌شوند میانه شب از خواب بپریم: پیامدهایی مثل بالا رفتن شدید ضربان قلب یا کابوس دیدن. دسته دیگری از افراد هستند که گاه به گاه شب‌ها حملات پانیک را تجربه می‌کنند. این حملات هم می‌توانند به‌سادگی از خواب بیدارمان کنند و خواب شبانه را مختل کنند.

در صورت تجربه چنین مسائلی حتماً باید با داکتر متخصص مشورت کنید. او با دانش و تجربه‌ای که دارد، به ریشه اضطراب و حملات یادشده پی خواهد برد و راهکار درمانی مناسب را توصیه خواهد کرد. رفتار درمانی شناختی (CBT) و استفاده از دارو دو راهکار درمانی معمول برای غلبه بر اضطراب هستند؛ گاهی هم از هر دو روش به‌طور هم‌زمان استفاده می‌شود.

مدیتیشن و تکنیک‌های تنفسی هم برای کاهش اضطراب مؤثر هستند.

**۳. پر بودن مثانه و اختلال شب ادراری**

شب ادراری اختلالی است که مبتلایان به آن، شب‌ها دست‌کم یک بار برای استفاده از دست‌شویی بیدار می‌شوند. البته بعضی از متخصصان بر این باورند که با یک بار بیدار شدن، نمی‌توانیم بگوییم کسی مبتلا به این اختلال است و تعداد دفعات باید بیشتر باشند. شب ادراری اختلال نسبتاً شایعی است. طی یکی از تحقیقاتی که در این باره روی ۸۵۶ نفر صورت گرفت، مشخص شد که از میان این افراد، ۲۳ درصد زنان و ۲۹ درصد مردان مبتلا به شب ادراری هستند.

مصرف بیش از اندازه مایعات پیش از خواب، عفونت ادراری و بیش‌فعالی مثانه از جمله علل رایج شب ادراری هستند. دیابت نوع ۱ و دیابت نوع ۲ هم اگر درمان نشوند ممکن است علل دیگر این اختلال باشند. وقتی قند خون بیشتر از حالت عادی باشد، بدن مایعات موردنیازش را از بافت‌ها بیرون می‌کشد؛ به‌دنبال آن، احساس تشنگی می‌کنیم و بیشتر مایعات مصرف می‌کنیم که به‌احتمال زیاد تکرر ادرار در پی دارد.

اگر با کم کردن مصرف مایعات از عصر به بعد، بهبودی در کیفیت خواب شبانه احساس نکردید و باز هم بیدار شدید، بهتر است با داکتر متخصص مشورت کنید و علت مسئله را جویا شوید.

**۴. مصرف نوشیدنی الکولی قبل از خواب**

با وجود اینکه مصرف نوشیدنی الکولی به‌خواب رفتن را آسان‌تر می‌کند، نظم معمول و حالت متعادل خواب را به‌هم می‌زند. نوشیدنی الکولی به روش‌های مختلف توالی و تعادل مراحل مختلف خواب را که پیش‌تر راجع به آن گفتیم تحت‌تأثیر قرار می‌دهد. مثلاً باعث می‌شود که در نیمه دوم خواب شبانه، بیشتر در همان مرحله اول از خواب باقی بمانیم که امکان بیدار شدن به‌واسطه عوامل محیطی در آن از هر زمانی بیشتر است.

تأثیر الکول بر بدن، بسته به عواملی چون جنتیک، تغذیه، وزن و حجم بدن می‌تواند متفاوت باشد. به همین خاطر، رعایت کردن تعادل در مصرف آن برای هرکس متفاوت خواهد بود و به عوامل یادشده بستگی خواهد داشت. اما بطور کلی متخصصان توصیه می‌کنند دست‌کم تا سه ساعت قبل از خواب، از مصرف نوشیدنی الکولی خودداری شود. نوشیدن آب و مایعات دیگر هم تا حدودی می‌تواند اثر الکول را بر بدن خنثی کند.

البته نباید فراموش کرد که مصرف این نوشیدنی‌ها پیش از خواب احتمال بیدار شدن برای دفع ادرار را بیشتر می‌کند.

**۵. آپنه خواب**

اگر شب‌ها یک دفعه از خواب می‌پرید و احساس تنگی نفس می‌کنید، احتمالاً به آپنه خواب مبتلا شده‌اید. این اختلال چگونگی نفس کشیدن به‌هنگام خواب را تحت‌تأثیر قرار می‌دهد و سبب کند شدن یا به‌طور کلی بند آمدن تنفس می‌شود.

این اختلال چند نوع مختلف دارد که در ادامه به‌طور مختصر به آنها اشاره می‌کنیم: نوع اول آپنه خواب انسدادی است که در آن عضلات گلو بیش از حد شل می‌شوند و مجرای تنفسی را تنگ می‌کنند. در پی این مسئله، ورود اکسیجن به بدن محدود می‌شود. نوع دیگر، آپنه خواب مرکزی است که در آن مغز امکان فرستادن سیگنال‌های مناسب را به عضلات کنترل‌کننده تنفس پیدا نمی‌کند. نوع آخر هم آپنه خواب مختلط نام دارد که دارای ویژه گی‌های ترکیبی از دو نوع یادشده است.

برای تشخیص اصولی آپنه خواب، لازم است با دستگاه‌های مخصوص خواب شبانه و چگونگی تنفس تحت نظارت قرار بگیرید. شایع‌ترین روش درمانی آپنه خواب استفاده از دستگاه فشار مثبت مداوم راه تنفسی (CPAP) است. این دستگاه نوعی ماسک است که شب روی صورت می‌گذارید و با استفاده از آن می‌توانید مجرای تنفسی‌تان را باز نگه دارید. البته راهکار درمانی بستگی به نظر پزشک متخصص دارد و ممکن است او روش دیگری را توصیه کند.

## ټاکنو کمېسیون: تر اوسه پر ټاکنو د څار هېڅ نړیوال بنسټ باورلیک نه دی تر لاسه کړی

د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي چې د ولسمشرۍ پر ټاکنو د څار څلورو نړیوالو بنسټونو تر اوسه پورې غوښتنلیکونه ورکړي، خو تر دې دمه هېڅ یوه هم باورلیک نه دی تر لاسه کړی.

د دغه کمېسیون د ویاند مرستیال عبدالعزیز ابراهیمي ویلي چې تر اوسه د ولسمشرۍ پر ټاکنو د څار ۲٤ کورنیو بنسټونو باورلیکونه تر لاسه کړي، چې اته مدني ټولنې، ۱۳ ګوندونه او درې رسنۍ پکې شاملې دي.

خو هغه زیاته کړې: «پر ټاکنو د څار هېڅ نړیوال بنسټ باورلیک نه دی تر لاسه کړی».

نوموړي زیاته کړې چې ۱٦ کورنیو او نړیوالو بنسټونو چې اته یې مدني ټولنې، څلور یې نړیوال، درې ګوندونه او یوه رسنۍ پکې شامل دي، پر ټاکنو د څار په موخه د باورلیک اخیستو غوښتنه کړې چې ډېر ژر به باورلیکونه ورکړل شي.

د نوموړي په خبره، د وږي تر ۳۰مې د ولسمشرۍ پر ټاکنو د څار باورلیکونو وېش جریان لري چې تر هغې نېټې به پاتې نور بنسټونه هم باورلیکونه تر لاسه کړي.

د هغه په خبره، د ولسمشرۍ ټولو نوماندانو باورلیکونه اخیستي او دغه راز د غني او حکمتیار ټیمونو ناظرین هم سیسټم ته داخل شوي دي.

بلخوا د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو (فیفا) اجراییوي رییس یوسف رشید د ولسمشرۍ ټاکنو په اړه د نړیوالې ټولنې پر نه لېوالتیا نیوکه کړې او ویلي یې دي: «د ټاکنو د روڼتیا په اړه د کاندیدانو له لوري موږ اندېښنه لرو، د دې لپاره چې نړیواله ټولنه د تېر په پرتله له ټاکنو سره علاقه نه لري، پیسې نه مصرفوي او سرچینې یې په واک کې نه ورکوي او د څار نړیوال او کورنی بعد یې هم ورته مطلوب نه دی».

هغه ویلي چې که نړیوال ناظرین هم موجود وي، د کابل له ښنې ساحې به بهر ونه وځي، ښایي هغه ساحې چې کاندیدان پکې موجود وي، نظارت وکړي.

د یادونې ده چې ټاکل شوې د افغانستان ولسمشریزې ټاکنې د تلې په ٦مه پیل شي، دغو ټاکنو ته ۱۷ کسانو ځانونه کاندید کړي دي.

## شاهین: هغه کېږي چې له امریکا سره د سولې هوکړه لیک په همدې پړاو کې وروستی شي

په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر ویلي، هغه کېږي چې له امریکا سره د سولې هوکړه لیک په همدې پړاو کې وروستی شي. دا په داسې حال کې ده چې تمه کېږي د امریکا او طالبانو ترمنځ نهم پړاو خبرې ورو ورو وروستۍ شي او په همدې نهم پړاو کې یوه معلومه پایله تر لاسه شي.

په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین ازادي راډیو ته ویلي چې دا مهال دواړه لوري د سولې د هوکړه لیک د پلي کېدو پر څرنګوالي خبرې کوي.

هغه ویلي: «پر وروستیو ټکو بحث کوو، تمه کېږي او هڅه هم کوو چې د سولې هوکړه لیک په همدې (نهم) پړاو کې وروستی شي».

دا په داسې حال کې ده چې د امریکایي پلاوي او طالب استازو ترمنځ د مذاکراتو نهم پړاو د تېرې اونۍ د پنجشنبې په ورځ پیل شوی او تر دې دمه دوام لري.

شاهین ویلي، د دواړو لورو استازو د وړمې شپې تر وروستیو خبرې وکړې او تمه کېږي چې دا پړاو مذاکرات د وروستیو مذاکراتو په توګه ډېر ژر پای ته ورسېږي. هغه دغه راز زیاته کړې، که زیاته زماني اړتیا وي، خبرې به دوام وکړي.

شاهین د خبرو د محتوا او د اختلافاتو د مواردو په تړاو د زیاتو معلوماتو له ورکړې ډډه کړې ده.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې په راپورونو کې راغلي وو چې دواړه خواوې د بهرنیو ځواکونو د وتلو پر مهالوېش او له افغان خاورې د ترهګرۍ لپاره پر نه استفادې بحث کوي.

په ورته وخت کې د افغانستان د سولې په چارو کې د دولت وزارت وایي، د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې له هوکړې وروسته به د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې پیل شي. د دغه وزارت ویاندې ناجیې انوري ازادي راډیو ته ویلي: «له روانو مذاکراتو وروسته به د افغانستان او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو پړاو پیل شي، هغه پلاوی چې د حکومت له لوري جوړ شوی، په دغو مذاکراتو کې د ګډون لپاره بشپړ چمتووالی لري».

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې حکومت اعلان کړی چې له طالبانو سره د حکومت مذاکراتي پلاوی به پنځلس کسیزه وي، خو تر دې دمه یې رسنیو ته د هغوی نومونه نه دي په ډاګه کړي، خو طالبان لا حاضر شوي نه دي چې د حکومت له استازو سره خبرې وکړي. په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین ازادي راډیو ته دا هم ویلي چې دغه ډله به له حکومت سره د یو اړخ په توګه بین الافغاني خبرې وکړي. طالبان په داسې حال کې د سولې د هوکړه لیک د وروستي کېدو خبره کوي، چې له مذاکراتو یوه ورځ وړاندې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په خپله ټوېټرپاڼه ولیکل چې امریکا د هوکړې لپاره چمتو ده، خو وبه لیدل شي چې طالبان هم چمتو دي که نه؟

### اقتصاد

**د اسعارو بیې**

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۳۵ |
| € | ۸۷,۲۰ |
| Rp. | ٤۹٦ |
| ₹ | ۱۱۱۰ |
| ¥ | ۱۱,۳۰ |
| £ | ۹۵,۳۰ |

**پروازونه**

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

**بیړنۍ شمېرې**

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily







سه شنبه د ۱۳۹۸ د وږي پنځمه | د ۲۰۱۹ د اګسټ ۲۷مه | ۴۲۱مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۲ | ۳٤ | ۳٤ | ۳۷ | ۳٦ | ۳۲ |
| ۲۳ | ۲۷ | ۱۷ | ۲۵ | ۲٤ | ۲۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۵۳ | لمر ختل ۰۵:۲۱ | ماسپښين ۱۱:۵٦ | مازديګر ۰۳:۳٦ | ماښام ۰٦:۳۰ | ماخوستن ۰۷:۵۹

## نړۍ



## روحاني: د هېواد د ملي ګټو لپاره به له هر ډول وسيلې کار واخلو


۳


## لاوروف: مسکو به هېڅکله هم له جي- اووه سازمان سره يو ځای نه شي



د روسيې د بهرنيو چارو وزير سرګې لاوروف د هغو ګنګوسو په ځواب کې چې ښايي دغه هېواد ته د نړۍ د اوو سترو صنعتي هېوادونو يا جي- اووه په راتلونکو ناستو کې د ګډون بلنه ورکړل شي، ويلي چې هېواد به يې هېڅکله هم له دغه سازمان سره يو ځای نه شي.
دا په داسې حال کې ده چې روسيه تر دې وړاندې د دغه سازمان اتم غړی هېواد و او هغه مهال يې نوم هم جي- اته و، خو په ۲۰۱۴ ز کال کې لوېديځو هېوادونو د اوکراين او ځينو نورو نړيوالو مسايلو پر سر له دغه هېواد سره د ستونزو له کبله روسيه له دې سازمانه وايستله او اوسمهال دغه سازمان د جي- اووه په نوم يادېږي چې اووه غړي لري.
تر دې وړاندې د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په فرانسه کې د دغه سازمان په وروستۍ غونډه کې ويلي وو، دوی تيار دي چې د ياد سازمان په راتلونکې ناسته کې چې په متحده اياالتونو کې به وشي، روسيې ته هم د ګډون بلنه ورکړي.
نوموړي دغه راز د ترکيې هغه وړانديز هم رد کړی چې له روسيې يې غوښتي چې د سوريې په ادليب ښار کې به د دواړو هېوادونو ځواکونه ګډ تمرينونه کوي.
هغه ويلي چې مسکو تر دې وړاندې انقرې ته ورته وړانديز کړی و، خو په خبره يې، د دوی غوښتنې ته مثبت ځواب نه و ويل شوی. د نوموړي په خبره، هېواد يې اوسمهال د دغه وړانديز اړتيا نهويني.

## جنوبي کوريا: د شمالي کوريا د هر ډول ګواښ پر وړاندې چمتووالی لرو



د جنوبي کوريا دفاع وزير جيونګ کيونګ دوو د شمالي کوريا وروستيو توغنديزو ازموينو ته په اشارې ويلي، چې هېواد يې د هر ډول بهرني ګواښ پر وړاندې تياری لري.
نوموړي د دغه هېواد له رسنيو سره په خبرو کې ويلي، چې شمالي کوريا په دې وروستيو کې له توغنديزو ازموينو او خبرداريو سره وښوده چې دغه هېواد نه غواړي په سيمه کې روان کړکېچ په سوله ييز ډول حل شي.
نوموړي دغه راز ويلي چې هېواد يې غواړي له شمالي کوريا سره خپلې ستونزې له ډيپلوماټيکو لارو حل کړي، خو په خبره يې چې که يې هېواد ته کوم ګواښ متوجه شو، په ټينګه به له خپلې خاورې دفاع وکړي.
دا په داسې حال کې ده چې شمالي کوريا د امريکا او جنوبي کوريا د ګډو تمرينونو په غبرګون کې د څو لنډ واټن ويشتونکو باليسټيک توغنديو ازموينې وکړې.
د جنوبي کوريا دغه خبرداری داسې مهال دی، چې د ولسمشر ټرمپ په مشرۍ د امريکا حکومت په دې وروستيو کې هڅه کړې چې د شمالي کوريا اټومي لانجه د خبرو او ډيپلوماټيکو لارو په واسطه حل شي او له همدې کبله د دواړو هېوادونو ترمنځ تر دې مهاله درې ځله مخامخ ناستې هم شوې دي، خو له کومې پايلې پرته پای ته رسېدلې دي.


## عبدالله: تلفات افراد ملکی در اثر عملیات‌های نظامی افزایش پیدا کرده‌است



رئیس اجرایی حکومت وحدت ملی، با نگرانی از افزایش تلفات ملکی و ناامنی شاهراه‌های بزرگ کشور، می‌گوید که تاهنوز مذاکرات صلح با طالبان آغاز نشده؛ اما کوشش‌ها در این خصوص جریان دارد.
داکتر عبدالله عبدالله رئیس اجرایی حکومت وحدت ملی، که دیروز در جلسه شورای وزیران در قصر سپیدار صحبت می‌کرد، گفت که تلفات افراد ملکی در اثر عملیات‌های نظامی افزایش پیدا کرده‌است.
وی افزود: «به اساس گزارش‌های نشر شده، تلفات افراد ملکی در سال گذشته، نسبت به قبل افزایش داشته است؛ به همین دلیل مردمی که در دفاع از دولت و نظام قرار دارند و شرایط بالای شان تحمیل شده است، جلوگیری از تلفات شان در اولویت قرار داشته باشد».
موصوف، با نگرانی از ناامنی‌ها در شاهراه‌های بزرگ کشور، گفت که اخیراً در شاهراه‌های بزرگ، حوادث زیادی صورت می‌گیرد و طالبان با استفاده از فرصت، شاهراه‌های بزرگ را به منابع عایداتی تبدیل کرده اند.
عبدالله، با ذکر اینکه روی جلوگیری از تلفات ملکی و حل ناامنی در شاهراه‌ها، در جلسات امنیتی بحث خواهند کرد، از مسئولان دفاعی و امنیتی کشور خواست که به خاطر حل چالش‌های موجود توجه جدی مبذول بدارند.
او تصریح کرد: «مذاکرات صلح، هنوز بین دو طرف آغاز نشده است؛ اما کوشش‌های در این زمینه در جریان است و موقع این است که طرف مقابل به خواست مردم افغانستان قناعت کند و از کشتار مردم بی گناه که ما شاهد آن بودیم جلوگیری صورت بگیرد».


## ژوند

## ښبنه د خوښۍ اوسېدو تر ټولو ستر راز دی



د خوښ اوسېدو يو راز ښبنه ده. کله چې له چا سره کينه کوی، په اصل کې تاسو په خپل وجود کې منفي احساساتو، لکه غوسې ته روزنه ورکوی. هڅه وکړئ چې زړه مو له کينې څخه پاک کړی. مهرباني کولای شي د هغې بدمرغه کينې ځای ونيسي، چې تاسې له ارام او خوشاله اوسېدو ډېر لرې ساتي.
مهرباني نه يوازې يو ښه عادت دی، بلکې ستاسو د خوشالۍ سبب ګرځي. کله چې تاسو پر نورو خلکو رحم او مهرباني کوی، ستاسو مغز د «سيروتونين» په نوم هورمونونه توليدوي چې په وسيله يې کولای شی له نورو سره ښه فکري اړيکه ټينګه کړی او په خپله شاوخوا کې د خوښۍ انرژي خپره کړی او ستاسو په څنګ کې چې کوم کسان دي، هغه هم خوښي احساس کړي.
د ستونزو پيدا کېدو په صورت کې خپله توانمندي له لاسه مه ورکوئ. کوښښ وکړئ چې ستونزې مو لاندې نه کړي او داسې و انګيرئ چې ستونزې مو بايد د پياوړتيا سبب شي، د ستونزې په نوم مو په ذهن کې کوم نامه ته ځای مه ورکوئ.

## دوړې او لوګي ښکلا له منځه وړي



تازه څېړنې ښيي چې لوګی او ګرد و غبار د مېرمنو په پوستکې تور داغونه پيدا کوي.
څېړنو ثابته کړې چې په ښار کې د موټرونو او نورو ماشين لرونکو وسايلو دود د مېرمنو په پوستکي تور داغونه پيدا کوي او په ټوله کې د بېلابېلو ناروغيو لامل کېږي.
دا تازه څېړنه په جرمني کې تر سره شوې ده. په څېړنه کې راغلي چې د ښاري هوا ککړتيا، لوګي او ګردونه د سږو د ناروغيو او د سږو د سرطان لامل هم کېږي. هغه تور داغونه چې د مېرمنو په مخ پيدا کيږي، په لومړي سر کې ممکن واړه او کوچني وي، خو د وخت په تيريدو سره دا داغونه غټېږي، چې د مېرمنو ښکلا ورسره پوره زيانمنېږي.
په ياده ناروغۍ د پاخه عمر مېرمنې نسبت ځوانو نجونو ته ډېرې ژر اخته کيږي. دا چې ځوانې مېرمنې تر زړو هغو ډېرې د خپلې ښکلا خيال ساتي او ارزښت ورته لري، نو که غواړي د خپل مخ ښکلا يې پر ځای پاتې او زيانمنه شوې نه وي، نو له پورتنيو عواملو د ځان وساتي. لکه څه ډول چې مخکې وويل شول، د ښکلا په له منځه تلو سربېره ګرد، دوړې او د وسايطو دودونه د ډېرو تنفسي او پوستي ناروغيو لامل هم کېدای شي.